إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ مِنْهُ». "كله چې خلک يو ظالم ووينې او د ظلم څخه يې لاسنيوى ونه کړي، لرې نده چې الله به په دوى ټولو خپل عذاب راولي

له ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: اې خلکو تاسو دا آيت تلاوت کوئ : {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لاَ يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ}،يعنې :اې مومنانو! د خپلو ځانونو غم کوئ، د بل چا بې لاريتوب درته کوم تاوان نه رسوي کله چې تاسو خپله پر سمه لار ياست} او يقينا چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ مِنْهُ». "كله چې خلک يو ظالم ووينې او د ظلم څخه يې لاسنيوى ونه کړي، لرې نده چې الله به په دوى ټولو خپل عذاب راولي".

[صحيح دى] [ابو داود، الترمذي او النسائي په الكبرى كې او ابن ماجه او احمد روايت کړى دى]

ابوبکر صديق رضي الله عنه فرمايي چې خلک دا آيت تلاوتوي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لاَ يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ} [المائدة: 105]. {اې مومنانو! د خپلو ځانونو غم کوئ، د بل چا بې لاريتوب تاسو ته کوم تاوان نه رسوي چې خپله پر سمه لار ياست} [57] او لدې داسې پوهه اخلي چې انسان بايد يوازې د خپل ځان په اصلاح کې کوښښ وکړي، او د بل چا بې لاريتوب ورته ضرر نه رسوي کله چې بې لاري شي، او دا چې په امر بالمعروف او نهى عن المنكر مكلف نه دي! نو پوه يې کړل چې داسې نده، هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: خلک چې کله ظالم وګوري او له ظلم څخه يې منع نه کړي، پداسې حال کې چې د دې کار وسه لري، نو نږدې ده چې الله به په ټولو خپل عذاب راولي، ځوک چې منكر كارونه كوي او څوک چې پرې چپ پاتې کيږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3470

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee